يقينا چې الله جل جلاله له بنده څخه هغه مهال راضي کيږي کله چې هغه يوه مړۍ وخوري او بيا پرې د هغه ستاينه وکړي (الحمد لله ووايي) او يا يو ګوټ اوبه وڅښي او د هغه ستاينه پرې وکړي

له انس بن مالک رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې، رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: «يقينا چې الله جل جلاله له بنده څخه هغه مهال راضي کيږي کله چې هغه يوه مړۍ وخوري او بيا پرې د هغه ستاينه وکړي (الحمد لله ووايي) او يا يو ګوټ اوبه وڅښي او د هغه ستاينه پرې وکړي».

[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم څرګندوي چې د الله په فضل او نعمتونو بنده لره د خپل رب ستاينه له هغو کارونو څخه دي چې د الله جل جلاله خوښۍ پرې تر لاسه کيږي، نو خواړه خوري او وايي: الحمد لله، او څښاک څښي او وايي: الحمد لله.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/5798